# په کلتورکښي دښځينه زيوراتو (ګېڼې) اهميت او ارښت

## The significance & value of woman's ornaments in culture

کلثوم*

**Abstract:**

In Pashtoon society, ornaments or jewelry is used by women at various occasions on large scale. Although, with the passage of time, this cultural practice has changed to some extent, but the usage of jewelry and its importance and historical traditions related with these cultural practices are still vibrantly alive in Pashto folk literature. So, the scholar in this research paper has thoroughly studied the woman jewelry/ ornaments in Pashtoon culture. Moreover, this research study has not only pinpointed the cultural aspects of these ornaments, but has also plainly highlighted with the examples of poetic folk genres.

**Keywords:** Pashtoon Society, Culture, Woman Ornament/ Jewelry.

پسول په پښتني ټولنه کښې د ښځو له خوا ډېر استعمالېږي . که څه هم تغير يې خوړلی دی د زيوراتو دغه کارونه او د دوی ارزښت يا له دې سره تړلي تاريخي روايتونه ټول په فولکلوري ادب کښې تر سترګو کيږي. مګر د زيوراتو و کارونه ته چې ځير شو،دا ويلای شو چې زيورات په درې برخو کښې وېشلای شو. اول هغه زيورات دي چې له کاليو يا جامو سره اړه لري. د بيلګې په توګه د کميس سره اړه لرونکي زيورات. د پړوني او نورو کاليو سره اړه لرونکي زيورات او داسي نور. دغه ډول دويم هغه زيورات دي چې د بدن د بيلا بيلو برخو دپاره کارول کيږي لکه د پزي، غوږو، تندي، غاړي ، لاسو ، پښو او نور زيورات. دريم هغه ډول زيورات دي چې د ويښتانو سره اړه لري. له په چوټيل ياچوټيلنه يا نورو ويښتانو کښې چې کارول کيږي. دغه ډول زيورات د يوې ټولني له کلتوري اړخ سره اړه لري. په دې کښې د يو قام د جمالياتي حس څرګندونې سره سره د هغه قام د يوې لويي ابادۍ احساسات ، خواهشات او نور څه تړلي وي.

کلتور:انسان چي کله دې نړۍ ته راغلی دی د ژوندانه په ډګر کښې څه نه څه اړتياوې يې په برخه شوې دي ،او انسان هر وخت هڅه کړې ده چې دغه اړتياوې پوره کړي - د انسان خوراک انسان دی مانا انسانان د ژوند کولو دپاره يو بل ته اړتيا لري.دخپلو ضرورتونه پوره کولو دپاره دوی ته د خلګو ضرورت وي ،خلګ په دې نړۍ کښي يوازي ژوندنه شي تيرولای هغوی ته دخاندان ضرورت وي ،بياخاندان هم يوازي ژوندي نه سي کولای هغوی ته د ټولني ضرورت وي، که دا ووايوچي انسان ټولنيزمخلوق دی بې ځايه به نه وي، کله چي دا دنياجوړه شوې خلګ د ژوند د تيرولوله پاره په

* M.Phil. Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta.

ټولني کښې يوځاى شوي،دوى چې کله يوځاى شي،خلګو مشترکه ياګډعاداتونه اوطرزعمل جوړوي ،دکوشني پرورش ياپالني مخصوص طريقوڅخه واخلي د خوراک د حاصلوتر طريقې ،دودونه ،عقيدې،اصول ،اقدار دا ټول په يوه ټولنه کښې زده کيږي.

کلتور د انګليسي ژبې له کلچر څخه اخيستل شوى دى چې مانا يې د کرنې ده . کلتور په حقيقت کې په ټولنه کې د ژوند يوه لاره ده څوک چې دغه خپله کړي نو هغه په دغه کلتوري محيط کښې داخل شي . کلتور په ټولنه کې د ژوند لاره ته اشاره کوي کوم چې د انسانانو لخوا رامينځته شوى دى. په دې کښې د يو قام او د يوې ټولني مذهبي، ديني، ژواک،خوراک څښاک،پوښاک،خويونه،خصلتونه وي.ديوې انساني ټولني د انفرادي او اجتماعی تجربې چې په کښې د هغې معنوى او مادى اړخونه شامل دي.کلتور د ژوند په هر اړخ کښي يوبيل او ځانګړى اهميت لري.کلتورديوقام دوداودستورادب،فن او ژوند کولو ډول ته وئيل کيږي.کلتورد ژوند ډير مهم کردار ادا کوي. کلتور د يوې ټولني د پيژندني ذريعه ده لکه پښتون د خپلو رواياتو او د کلتور په وجه دنورو خلګو څخه جلا دى .ځکه چې زموږ روايات ،ښه اخلاق ،او داسي نورو شيان زموږ د کلتور برخه دي . دغسي د يوې انساني ټولنې دوداودستور د هغې ټولنې کلتورګڼل کيږي. چيري چې انساني ټولنه وي هلته په حتماً کلتوروي.يعني انسان او کلتور تر منځ نه پرې کېدونکی اړيکې شته او همدا کلتور دى چې دانسان په مادياو معنوي ژوند کې ځاى لري که چيرې په يوه ټولنه کې انسان نه وي هلته به کلتور هم نه وي .کلتور د انسان له پيدايښت سره سم منځته راغلی دى ،دبيلګې په توګه که چېرى موږ په خپله پښتني ټولنه کې يو شمير دودونو ته وګورو-

کلتور د انسان دارتقايي ژونداو عمل يو ټولنيزه پديده ده چې دانساني ژوند له پيله بيا تراوسه پورې ورو،ورو راغونډ او خوندي شوې ده.کلتورد يوهيواد ، ملت او ټولني دخلګو خوى بوى په عمومي ډول داسي څرګندوي لکه دمثال په توګه مېلمه پالنه زموږ دخلګو عام کلتور دى ددوى دغه نېک فطرت ز موږد خلګو د ادب سطح ښکاره کوي او اخلاقي او فطري عکاسي ىې کوي- فطري طور دخپلې ژبي تهذيب کلتور او په پخواني کلتور د بني نوع انسان دارتقايي ژوند او عمل يوه مجموعه ده - دکلتور په لوى تاريخي مجمو عې کښې دا اجزا شامل دي. د اولسي ژوندنظام،تمدن ،تهذيب،دود او ر سم ر واج،اولسي،تنظيمونه ،رواج ،روايات،ژبه،رسل و ورسا ئل ،هرقسم اداري خپلولي،وادۀ،کوژدنه،مړي ژوندي سره متعلق دود دستور،قيصې،روايتونه،تعليم اوتربيت اداب،قانون،فلسفه،اخلاقيات،علوم وفنون،ادب،موسيقي لوبي،او داسي نورچې د اولسي ژوندد هراړخ سره متعلق عمل ،چې دتاريخ دوردابتدا نه پس په دې خوا راروان دى د کلتوريا ثقافت په دائره کښې شمارلی شي.داټو ل اجزاد کلتور دي کلتور کښې زموږ ټول عادتونه ،خويونه ،خصلتونه شامل دي .کلتور ديو نسل څخه بل نسل ته منتقل کېږي -،په کلتور کښي د ژوندټولېلاري ګڼل کيږي په

دي کښې رویه لباس ،ژبه،دین،دودونه اوطرزعمل دپاره ټاکل شوي اصول راځي -کوم چې له یونسل څخه بل نسل ته منتقل کیږي کلتور په بشر پوهنه کښې لوی مفهوم ځای لري -

“the concept of cultuer is central to Anthrology The term cultuer is not used with it makes the backbone of sociology and other related disciplines such as cultural geography and social psychology. As a society's ways of life e.g production ,modes of dress,press.routine living habits,food preferences,the architecture of houses and public building ,the layout of field farms ,and systems of education,government ,law”(1)

**ژباړه**:په بشر پوهنه کښې د کلتور تصور ته مرکزي اهمیت حاصل دی ، د کلتور اصطلاح نه خالي په ټولنیزه علومو کې مرکزي حېثیت لري او ورسره په تړلي علومو کې کارول کېږي لکه کلتوري جغرافیه او ټولنیزه ارواپوهنه بلکې دټولني ژوند دود په ځان کې رانغاړي لکه پیداوار،پوښاک،پریس، د هر ورځني ژوند د تیرولو عادتونه،خوراک ،کورونه،او د عوامي عمارتونو جوړښت ،د کښت ترتیب ،د زدکړې نظام ،حکومت ،قانون داسي نورو-کلتور زیات تر له زراعت کر و کروندې ،کښت ،اوکرونده سره تړلی وي هغه په دې چي کله په مځکه کښې یاپه خاور کښې توخم (بیج)ور اچوي .یعني ددرختې مثال ورکړی دی یعني چې یودرخته په توخم په کښې واچوي نو هغه غټه درخته جوړه شي نو د هغې ریښه په ځمکه کښې موجود وي .دا رنګه کلتور هم د یو درختې په مثال دی چې له ډیر وخت رامخ ته شوي او اوسیږي هم خلګ په ډېر شوق او په مینه سره خپلوي او په فخر سره عمل پرې کوي .کلتور د عقائدو، تربېت ،عملي توګه ترسره کوي .تر کوم چې دیوقام کلتور ژوندی وي تر هغه پوري د هغه قوم نوم ژوندی وي.ویل کېږي چي د یو کلتور په وجه یوانسان کښې ښه اخلاق ،ښه تربیت ،دود، دستور ،خوراک، څښاک، عادتونه ،خصلتونه او داسې نور شیان چې هغه د کلتور په اجزا کښې شامل دی. په کلتور کښې هغه ټول مذهب ، عقائد،علوم او اخلاقیات، معلاماتاو معاشرت، فنونوهنر،رسم ورواج، دوداودستوراو قانون ،او ټول عادتونه شامل دي.کوم چې اشتراک ،مماثلت، وحدت پیدا کوي.

"کلتور دلاطیني ژبي ټکي دی چې معنا یې کرنهَ، کښت او کرونده ده". (2)

دلته دوی کلتور له کښت او له کروندې سره موازنه کوي ، هغه په دې چې کله چې یو کوندې ته یو توخم ور اچوي نوله هغه څخه نوی فصل یادرخته ځني جوړه شي ځکه دوی کلتور له کښت سره تړي چې انسان هم دغه رنګه دنسل څخه بل نسل ته دا خپل کلتور منتقل کوي .کلتور یااولسی ادب هم دا رنګه سینه په سینه یاپه خوله په خوله دیو څخه بل ته رسیدلی دی .هغه که داستان وي که غاړې که ټپه وي دا ټول موږ ته په دغه رنګه راسیدلي دي .

کلتوردفرانسي ژبي توری دی، په دې هکله مصطفٰی داسي ليکي.

"کلتور دفرانسي ژبي توری دی ،کلتور دانګريزي ژبي کلچراو دعربي ژبي ثقافت چي په دې ورستو شپيتوکلونو کي په فارسي ژبي فرهنګ بلل شوی". (3)

کلتور ډيرې معناوې لري. دا په ورځنۍ ژبه او تعليم کې ويل کيږي چې دا په يوه معنا بلکه په ډيرومعناوو استعماليږي، کلتوردمعنوي اومادي دواړو يوه اهم برخه ده -

"داسي ويل کيږي چي کلتور دلومړني اوډيرپراخي معني له مخي دانسان په واسطه دمنځته راغلي څيز نوم،داداستعماليدنې ،ښه کيدنې،بشپړيدنې،په شعوري ډول دهغه څه توپير کونه ده،کلتوردهغومادي اومعنوي ارزښتونومجموعه ده ،چې انسان په واسطه دټولنيزه تاريخي کړو(پراتيک)کې يې پيداشوي وي"(4)

هغه قومونه خپل وجود نه ور کوي کم چي خپل کلتور ژوندي ستائي ،په کلتور کښي زموږ ټول عقائد،کړه ،وړه ،ژبه شامل دي ،په کلتور کښي ژبه ترټولو غټه برخه لري هغه په دې چي کله د چا خپله ژبه زده وي نوهغه په خپل روايات ،کړه وړه ،عقائدو باندي پوهيږي ،کوم قوم چي خپله ژبه هيره کړي نوهغه خپل کلتورهم نه شي ژوندی پاتي کولای ،کلتورونه هلته ژوندي وي چيري چي خلګ خپلې ژبي ته اهميت ورکوي دهغوي کلتورونه نه ورکيږي،کلتوراوتاريخونه باندي خبرشونوهلته به موږعقائدو،کړه،وړه باندي خبرشو،په کلتور کښي روايات اواقدار شامل دي ،ديوټولنې تاريخ دهغهخلګو په کلتور يافولکلورکښي موجود وي ،هغه که مختلف مذهبونه ،اوکه کړه وړه ،ژبه ده دهغوي ټول په کلتور کښي ښکاري اودهغوی ترجماني کوي ،په کلتور کښي روايات ،د کلتور په توګه موږته معلوميږي-

کلتور کښي دټولني ټول عقائد،روايات،دودونه ،مذهب ،ژبه ،دا ټول د کلتور په برخه کښي راځي ،دمثال په توګه دکورونه دجوړښت انداز ،مذهبي حواله باندي موږداسي ویلای شوچي دمسجددجوړښت اندازپه هغه کښي بانډارونه اوداسي نورچي کوم په پښتني ټولني کښي شته، دا ټول د کلتور په برخه کښي شامل دي. دا رنګه دا ټول په نورومذهبونو کښي هم سته ځکه موږداویلای شوچي دا ټول په کلتور کښي راځي،د کلتورکه څه هم نظرۍې دي يا تعريفونه ۍې شوي دي هغه ټول په يوخوله دي چي په کلتورکښي ديوقام ټول عقائدپه کښي راځي ،په دي هکله ډاکټربرکت شاه صاحب داسي ليکي.

"دکلتور په حقله که څه هم بېلا بېل نظرونه کښې ترډيرحده پوري يووالی ښکاري په لنډو ټکو کښې کلتور دانسان دژوند دهر اړخ احاطه کوي .چي په هغه کښې رويې، عقائدټول شامل دي".(5)

کلتورزیات تر په کلي کښې ژوند کوي او هم هلته زده کیږي ،هغه په دې چې هغه له فطرت سره نږدې اودښارپه نسبت په کلي کښې زیات زده کیږي ،هلته یعني په کلي کښې هغه زاړه روایات ،عقائد ،قصې ،سندرې،موسیقي، اوهغه دودونه ټول په کلي اوس هم سته یعني دمثال په توګه دواده چې کوم دودونه دي که سندرې هغه اوس هم په کلي کښې سته یاکیږي خوپه ښار کښې اوس ډیرکم دي هغه داسې چې په ښارکښې زیات تره ودونه په ښادي هالونه کښې کیږي ،نوهلته نه هغه کلتوري سندرې وي اونه هغه زاړه دودنه کوم چې زموږ دکلتور برخه دي په ښارکښې داډیرکم دي نوځکه موږدویله شوچې کلتور دښارپه نسبت په کلي کښې ډیر زده کیږي.
کلتور د یوقام یادیو ملت نښانه ده ،هغه داسې چې دیوقام یادژبې په هکله هغه وخت پوهیدلای شوکله چې موږدهغه ژبې کلتوریافولکلور سره اشنا ئو هغه داسې چې دیوژبې ټول عقائدتاریخ په کلتور کښې ښکاریږي یامعلومیږي ولې چې دیوې ژبې ټول عقائدپه کلتوریافولکلورکښې پراته وي ،کلتوردانساني ژونددپیل څخه واخلي بیاتر اوسه پورې داټول د کلتوري عمل یوغټه برخه ده -په کلتورکښې داولسي ژوندټول نظام شامل دی،یعني چې په یوټولني کښې چې دژونددتیرولو کومه طریقه ده ،هغه داسې چې په یوټولنه کښې چې کوم روایات دي هغه د نا لیکلي آئین یاقانون په حېثیت زموږ په زړونه یاپه ذهینو کښې پروت وي ،دودونه ،روایات داټول په کلتور کښې راځي په کلتور کښې زموږدژونددتیرولو لارې راځي ،په کلتورکښې دانساني ژوندله پیل واخلې بیاتراوس پورې ټول داکلتور په برخه کښې شامل دي،په کلتور کښې زدکړه ،تربیت،ادب قانون،مصوري ،فن ،لوبې ،دژونددهر اړخ سره تړي عمل په کلتور راځي په انساني ټولني کښې کلتور ډیراهم برخه لري ،چې دانساني ژوند له پیل څخه واخلي بیاتر اوسه پورې چې کوم کړه وړه ،یا د ژوند د تیرولوطریقه اود زدکړې دود دی، دا ټول دکلتوري عمل دلارې زموږپه ژوندکښې شامل دي.

"دزیږ ېدون له لمحې څخه راپه دې خواهغه دودونه ،په کوم کښې چې هغه رالوئ شوي دي -دهغه د زدکړې اودطرزعمل رغونه کوي کله چې هغه دخبرې کولو جوګه کیږي نوتر هاغه پورې دخپل ثقافت پالونکي یوکوشنوټې غوندې عنصر جوړ شوي وي".(6)

کلتورله هغه وخته واخلي کله چې انسان دې دنیایانړۍ ته راسي له هغه وخته بیاتربلوغت پورې چې رسیږي نو دکلتور په ډیراړخونو باندې خبرشي یاپوهه شي ،مثال په توګه کله چې انسان په یوټولنه کښې وخت تیروي نو هغه دهغې ټولني مزاج رسم رواج ،اوداسې نوروډیراړخونوسره ولدشي کلتوردښارپه نسبت په کلیوکښې ډیر زده کیږي هغه داسې چې کله یوماشوم په خپل کلي کښې وخت راتیرکړي نوهلته هغه د خپلې ټولني مزاج کړه وړه ،عقائدوپه ټول باندې خبرشي ، د مثال په توګه چې

کله یوماشوم په کلي کښې وي نوکله چې په خپل ټولني کښي وسي نوهلته اول ابتدا د لوبو څخه کوي نوله داځاي دوی ته معلومیږي چې زموږ په کلتور یاپه ټولني کښي د دې څه اهمیت دي ،اوله دغه ځایه د زدکړې عمل شروع شي نوځکه دښارپه نسبت کلیوکښي کلتور زیات زده کیږي.

"په خپل چاپېرل کښې پیداکېدونکي هر وړوکی په خپلو عاداتونو،عقائدو او ناممکناتو کښې به ورسره شریک جوړیږي ،کوم وړوکی چې دنړۍ په یوبل ثقافت کښې پیداکېږي".(7)

کلتوردانساني ژونددهراړخ سره تعلق لري ،مثال په توګه موږچي په کوم ټولني کښي ژوندتیروو په هغه کښي چي کوم طریقه یاعمل دي هغه دهغې دټولني دمزاج یافطرت سره تړلي وي هغه داسي چي زموږپښتانه چي په کومې علاقې یا سیمي کښي ژوندتیروو دهغي په مطابق زموږکالي ،جامي ،خوراک دهغي مزاج په مطابق خپل ژوندتیرولوطریقه عمل دهغه ټولني دکلتوربرخي ګرځي،نوځکه چي کله یوانسان په یوټولنه کښې پیداشي نوپه کوم ټولنه کښي چي ژوندتیروي نوهغه د انسان دکلتوروګرځي.

"کلتوردبني نوع انسان دژوند دهر اړه لرونکي عمل دی چې دارتقائي ژوند یا دتاریخي دور پېل کېدو نه پس یې د بشپړه پنګي حېثیت اختیار کړی دی په هم دغه پنګه کښې داولسي ژوند دنظام هراړخ شوی دی".(8)

کلتور د انساني ژوندیواهم برخه ده،کلتور د زړو روایاتواوعقائدو سره د راتلونکي وخت سره سم مخ په وړاندي راځي منځ ته کیږي ،مثال په توګه که زموږ یعني پښتني ټولني چي څومره هم په مخ ځي خوبیازیات ترفیصلي هم اوس هغه دجرګې یامرکې ته اهمیت ورکوي ،ځکه نوکلتوردزړوروایاتوسره یادماضۍسره سم په مخ ځي.

**فولکلور** :فولکلوریا اولسي ادب هغه وخت تخلیق سوی دی .کوم وخت چې انسان په ښه او بد پوهیدلی دی له هغه وخت څخه په نظر راځي .یعني انسان د خپلو جذباتواواحساتواظهار د فولکلورپه شکل کښې کړی دی، د مثال په توګه که ښادي غم وي د هغه اظهارکړی دی هغه که د منظوم اوکه منثور انداز کښې کړي دي او بیا دا د یو نسل څخه بل نسل ته منتقل کیږي ، فولکلور نه یوازې دلیک له ایجاد نه مخکې د لرغونو پېښو په تحلیل او د انسان تاریخ او تمدن په پېژندلو کې راسره مرسته کوي په اولسي ادب منظوم اصنافوکښې د هوتکو نارې، د مروتو کسرونه ،ټپه یا لنډۍ په کښې شامل دي .فوکلور کښې د یو قوم ټول روایات خوندي دي. او هغه که داستان،ټپه،جرګه ،او داسې نورو اصناف چې په هغه کښې د نثراو نظم په شکل کښې د اولسې ادب شکل کښې خوندي دي.او په دې کښې د ژوند د تېرولو طریقې موږ ته په نظر راځي کوم چې د

نالیکلي آئین په صورت کښې پرته ده. فولکلور چې موږ ورته اولسی ادب یا شفاهي ادب هم وایو هغه ادب ته ویل کېږي کوم چې تر موږ پوري سینه په سینه راغلی وي- د یو ملت ټولنیزز ژوند ، د تاریخ په اوږدو کې د هغه د ژوند ارتقایي سفر ، کوم چې ګډوډ شوی یا پیښې او کړاوونه چې پیښ شوي ، په فولکلور کښې د یوې ژبې ټول میراث یا روایت شامل دي ـفولکلورکښې داستانونه ،دودونه،او عقیدې کوم چې په نا لیکلي صورت کښې له یوه نسل څخه بل نسل ته سینه په سینه یاخوله په خوله منتقل شوي دي،په هغه کښې متلونه ،ټپي،دماشومانولوبې ،کرکې کرېني، اوداسې نور کوم چې فولکلور برخې دي ـفولکلور دهرې ژبې دپاره ډیراهمیت لري ،اودیوې ژبې ټول عقیدې اوکرۀ ورۀ په فولکلورکښې خوندي وي ،په فولکلورکښې زموږهغه ټول زړاه روایاتونه ،په فولکلور کښې پټ دي‌ـفولکلورچې له دووتوروڅخه جوړشوی دی چې فوک معناخلګ اولورمعناپوهه ده،یعني فوک خلګ یاعام اولس لورپوهه یعني د اولس پوهه ده کوم دعام اولس تخلیق دي، کوم چې سینه په سینه یا په خوله په خوله راغلی دی.فولکلور له دوه تورو څخه جوړشوي، FOLK معنا خلګ معنا اولس او LORE پوهه یعني فولکلور له دوه تورو څخه جوړ دی فوک معنا اولس او لور معنا پوهه په عامه اصطلاح کښې فولکلور داولسي ادبیاتو بیلابېلو برخو ته ویل کیږي،هغه داسې چې په فولکلور کښې ،اولسي شاعري ،داستانونه ،اصول ،اقدار،روایات ،لنډه داچې د اولسي ادب ټول اړخونو سره اړه لري.فولکلوردهرژبې په ادب کښې ډیراهمیت لري ـهغه که بلوچي ادب ،پنجابي ادب اوداسې نوردي ، دهغوی په ژبوکښې هم داستانونه ،موسقي اوداسې ټول د فولکلوربرخې دي ،کله هم چې موږ د یوې ژبې په هکله معلومات یاځان خبرول غواړونوبایدچې دهغوی په فولکلور باندي ځان خبرکړو.

"پنجابي ادب ده اوکه سندهي ،بلوچې دي که ارود یا که پښتو ادب غرض دا چې هرپاکستاني ادب د اولسي ادب یوه لویه برخه لري-صوفیانه ،عشقیه،ملي ،قومي ،اخلاقي او مذهبي مضمونونه دټول ددي ادب اهم موضوعات دي " (9)

په اولسي ادب کښي دژوند ټول شیان په کښې شامل دي ،هغه داسې چې په فولکلور،د خلګودودنه ،عادتونه ،طب یادعلاج کوي لوطریقه هم دفولکلوربرخې کښې راځي ،لوبې ،کرکې اوکرېکي ،خوراک ،څښاک ،پوشاک ،داستانو،ټپي ،غاړي،اتڼ نارې اوداسې نوروپه کښې شامل دي -په داهکله شاکره په خپل مقاله کښې داسې لیکي.

"اولسي ادب لمن ډېره پراخه ده چې داولس دودونه،عادتونه ،طب دکور جوړولو کرهڼي،پوشاک ،خصوصیات ،قصي سندري او معاملې په کښې شاملي دي ،کله

کله ادب داولسي ادب نه مطلب يوازي داولس ادب هم وي چې (خلکو ادب ) اوسي ادب ،شفاهي ادب(فوکلوري ادب) او خپله دفوکلور په نامه يادېږي".(10)

په اولسي ادب کښې روايات ،عقايداصول ،کړه وړه ،دژوندتيرولوټول طريقې راځي ديوه ژبې دپاره فولکلورډېراهميت لري هغه په دې چې په هغه کښې ديوژبې يادخلګود تيرولو ټول اصول په کښې شامل وي. فولکلور په دوه برخو ويشل شوی دی .لومړی مادی فولکلور او دويم غيرمادی فولکلور دی لکه مادی فولکلور:دغه فولکلورکښې سخت يا کلک شيان شامل او په دی کښې دانساني ذهن تخليق وي په دی کښې دخلګو سماجی تړون او ټولنه کرداراو په دهغه کښې تعمرات،سړکونه، خوراک او داسې شيان په کښې شامل دی دا رنګه هر کلتور خپل ټولنيزي د مادې له وجې ژوندی پاته شوي دی.

**غيرمادي فولکلور** :دغه فولکلور کښې دانساني ټولني نظريات ،عقائد،جذبات ،دودنه ،رواجونه، ټولنيز معمولات ،آداب ،وقوانين په کښې شامل دی - بيا په دغه کښې مذهب ،دين ،اومذهب څخه دتعلق عقائد اوافعال اقدار اومختلف اړخونه په کښې شامل دی.فولکلور چې دانساني ژوند له ابتدا څخه پرمخ تګ کوي -کله چې انسان ددنيايانړۍ ته راغلی دی له هغه وخت څخه تر اوسه پوري چې کله ټولنه جوړه شوې ده دارنګه د هرې ټولنې خپل اصول عقائداوروايات وي،د هرې ټولنې خپل فطري اصول بيل دي ، د مثال په توګه پښتانه چې په کوم ځای ياپه کوم علاقو کښې ژوند کوي دهغه مطابق خپل کلتورونه جوړوي مثال په کوم علاقو کښې چې پښتانه اوسي ياژوندي کوي دهغه د موسم مطابق کالي ياجامي اغوندي دهغه مطابق خوراک ياڅښاک کوي.

**مادي فولکلور** : دويم برخه کښې د ټولنيز ژوند سره تړلو شيانو سره لکه مسجد،حجره،کور،جرګه،له ټولني ايستل د مشرۍ پټکی ورپه سرکول،ميلمستيا،او داسې نور دی.او په دريمه برخه کښې جرګه استول ،ننواتي،ښځي استول،بدرګه ،وعده،انسانيت،وفا،اخلاص،تيره،اوبدل،شامل دي.څلورمه کښې بدعهدي،ملامتيا،تهمت ،پيغور،سنګسارول،بې ننګي،نامردي،او او داسې نور ډېر کلمات او اعمال شته چې دپښتونولي په حقله مونږ ته دپښتونولي ښه او بد اړخ په کښې بيانيوي. د نړۍ نور قومونه او قبائل چې زيور استعمالوي همدغه رنګه په پښتونوکښې هم دزيور استعمال ډير دی.دپښتني مېرمنو او پغېلو په زيور کې غاړګۍ ،اوړی لښتۍ ،والي ،پيزوان ،مېخک ،نته ،ټيک کړی،بنګړي ،باووګان ،پايزيبونه ،ملاميل ،ګوتي ،کجکان باووګان ملابند ،شامل دي.ولې اوس په دې کې دډ ېر شيانو رواج په ځينو ځايو کې دنوي تهذيب او په ځنيو ځايو دافتخار له کبله کم سوي دی اوړی، او باوګان هم نه شته که چې په لرې قبايلو کې څه سته ،که چيرې لرې سروزونه بلکې دسپنيو وي.دغه رنګه پايزيزيبو رواج يو مخ روک سوی دی.په دې زمانه کې ناوې دپاره چې زره جوړيږي.نو په هغه کې نته او پيزوان هم نه وی البته ځای.مېخک استعمالېږي

بنګړي،غاړګی،کړی،والي،ګوتی ،دټکه ددغو رواج اوس هم سته. پښتانه زیور باندي ډیر رقم خرڅې وي ویل چې دهغه زیور بیا په مشکل حالات کښې په کار وریږي .ددې وجه دنه د پښتانه یوځاي د رقم بچت کیدو دپاره زیور ورکوي بلکه د حسن او ښائست له پاره هم ورکوي .د پښتني زیور رواج کوم شوي.هغه وجه دده چې دنوي تهذیب سره بدل سوي دی.زنانه عام طور دخپل بدن دبېلو بېلو اندامونه لکه د پښو ،لاسونو پوزې غوږونه ،ګوتو،غاړې (مری)،تندي او دسنګارولو او ددې د ښکلا دزیاتولو دپاره مختلف قسمه زېور استعمال وي.څنګه چې دهر ملک دخلقو دحسن معیار جدا جدا وي.ځکه چې دحسن دپاره هېڅ عالمي معیار نه دی ټاکلی شوی.دا شان ددوئي دزنانه ودزېب وزینت او سینګار دپاره زېور طرز او معیار هم جدا لکه چې معلومه ده ده دشرقي شاعران زېور د سنګار دښائست کول ذریعه ګڼي.دښکلو زېب وزینت له زېور نۀ سېوا کېږي.

**پیزوان**: پیزوان زرګرله سرورا وسپینوزروڅخه ډیرپه مهارت اوفني توګه ډیررنګین اوښاسته جوړووي دښځو زیور دي.چې هغه په پوزه باندي ګنړی کوي.پیزوان په زیور کښې ترټول خوند کوي.که څه هم ددې رواج په ډیر ځایوی کښې ختم ده. لکن په کلي یا په لري علاقو کښې اوس هم سته.دپښتوپه ولسي اولیکني ادب کې ډېر یادشوی دی.هغه داسې دی.سلمي شاهین په خپل اثرکښې داسي لیکي،

"پیـــــزوان کنـــــډول کــــــړه اوبــــــه راکـــــړه
یـودي ثـواب دئ بـل هـم یارلـه تنـدي مـري نـه"(11)

منګل پسول په کاکړۍ غاړوکې په خپل اثرکښي داسي لیکي،

"چارګـــــــــــل لــــــــــــوړپېزوان پرخولـــــــــــــه
مـــــــــایې وســـــــــترګوته کاتـــــــــه"(12)

**ټیک**: ټیک هم د پښتني دښځو زیور ده.چې هغه هم پوزه باندي پزه کوي.په ناصر کې هم ځني خلګ ټیک ورکوي اوځني پیزاون ورکوي.او ټیک د ځني خلګ چارګل هم وایي او ددې استعمال د پښتونو په نورو کښې هم شته قومو کښې استمعال وي.په ولسي ادب کښې ددي یادونه داسي شوي ده .

منګل په خپل اثرفولکلوري ګلونه کښې داسي لیکي.

ټیـــــــک دي پـــــــه پـــــــوزه ریـــــــږ ځلیـــــــږي
لکـــه ســــپوږمۍ دې پنځلســـم ختلـــې ونیـــه"(13)

**تعوېزونه یا امېل**: تعوېزونه هم دښځو زېور ځني ورته امېل او ځني ورته تعوېزونه ویې .د امېل رواج اوس هم شته خو دنوې تهذیب سره جوړ شوي دی اوس ورته میلا بند ویل کېږي. امېل یوائې دناصرو نه بلکه نورو پښتني ښځو کښې هم استعمال وي. د سرو زرو یا دسپینو زرو نه جوړ وي.هار، تعوېرونه یا امېل

غاړه کښې اچولو یو مشهور او زړو زېور دی چې تر اوس ئې استعمال کېږي. خو دجدید دور دغښتنو مطابق ئې ډېر حد ه شکل (طرز) بدل دی- په ولسي ادب کښې ددې یادونه داسې شوي ده-
لایق ،په خپل اثرکښې داسې لیکي،

"امیـــــــل د سروزوښـــــــه ښـــــــکاری
بـــل چـــې اوربـــل دپاســـه وتـــومبې ګلونـــه"(14)

**سپین روپۍ**: سپین روپۍ هم د امېل غوندې په اوږه باندې تړل وي.یا په غاړه کوي د هم د ناصرو پخوانی زېور دی.چې اوس استعمال تر ډېر حده کم شوي دی .ویل چې ماته هم په ډېر را پیدا شو.
**باهویا باهوګان**: باهوګان هم د پښتني د لاسو زېور دی چې لاسونه تړل پټې وي.او دسپین زرو یا دسرو زرو نه جوړه شوي دی.ناصرو کښې هم دهغه استعمال ډېر کم دي.اوس هم شته .خو له نوي تهذیب سره بدل شوي دی.لکن پخواه ډېر مهشور ویل خو اوس ډیر په کم ځایوی کښې استعمالېږي.په دې هکله هم په ولسي ادب کښې یادونه شوي دی.

"د لاس بـــــــاهو مـــــــي اوبـــــــو یـــــــوړل
پـــــه غـــم شـــریک یـــاره نیســـه ګودرونـــه" (15)

**وښي**: وښي"یا باهو هم دلاس زېور دي او ناصرو مشهور زېور دی چې تر اوس هم استعمال زیات دی په دې او په دې کښې ګنګروګان هم وي.غمي هم لګېد لي وي.او په دې باندې ټپه هم ویل شوي دی چې داسې دی:
**کګڼ**:کګڼ هم د ناصرو ښځو د لاس زېور دی. چې پخواني ښځې اوس هم په لاس کوي .ددی سپین زرو یا بیا سرو زېور جوړشوي وي.او په د کښې زر ډېر استعمالیږي.د دپښتنو په نورو قوموو کښې ددې استعمال نه شته په دې باندې هم ټپه ویل شوي دی:
**غاړګي،**هار:غاړګي یا هار هم د ښځو زېور دی چې په غاړې کوي غاړګي په اوسني دور کښې هم شته د ناصرو دوه قسم دی یو خوډېر پخواني دی اوس دهغوې استعمال نه شته.او بل غاړګي دهغه دي چې اوس ښځې ډېر استعمالیږي هغه هم د سپین زرهم جوړي او سرو زرو هم یعني څوک چې اوس لري هغه سرو ور جوړه کړي هغه سپین زرو ور جوړکړی.
او ددي استعمال په نورو پښتني سمیه کښې هم سته خواوس استمعال کم ده-
**ګوته**:ګوته هم دښځو زېور دی چې د هر قوم کښې جلا جلا شکل یا طرز کښې جوړ وي.چې د سپین زرویا سرو زرو یا د پیتلو وي.او په دی هم باندې هم ټپه ویل شوي دی.

**ګل مخې**:ګل مخې يواځاى په ناصرو کښې دزېور استعمالېږي ويل چې په ناصرکښې له ښځو هم پرده کويل رواج دی .او ګل مخې هم په ټول ناصرو کښې نه شته په ځنېو ناصرو کښې ددي استعمال شته.او کل ناصرو ښځې مخ پټې نو بيا دهغو ګل مخې استعمال کوي.

**ډډې يا لښتې ياوالې**:دا د ښځوپه غوږونو کښې د اچولو زېور دی .دا کښې د له سپينواوله سروزور څخه جوړوي په کليواوپه ښارکښې دواړوکښې استمعاليږي خواوس څه جديدپکښې راغلي دي .په ولسي ادب کښې ددي يادونه داسي شوي ده.په دا هکله سلميان لايق خپل اثرکښې داسي ليکي،

لښـــــتي مــــې وې پــــه غـــــوږ مــــې نــــه کــــړې
اوس مـــــــې يـــــــاديږي دروپيوکتارونـــــــه( (16)

**دښا تار**:دښا تار دناصرو زېور دی چې له سپين زرو څغه جوړوي.دا هم د ګل مخې حصه ده. ګل مخې په مخ او تار تر ښا اغوندي.

**سريه يا تندي پټې**: سريه هم دناصرو زېور دی چې دناصر ښځې په تندي ور پورې کوي .په ناصرو کښې هغه ناصر چې ګل مخې نه استعمالوي هغه بيا د ګل مخې په ځاى سريه استعمالوي.

**پانکټي يا پازيبونه** : پانکيټې په ناصرو کښې ورته وائي او نورو ورته پازيب ،پائله .کړی، پښکړې وائي د ښځو د پښو مشهور زېور دی .په دې کښې ګنګروګان هم وي.د سپين زرو يا سرو زرو وي .اوس دی نوي تهذيب سره په دې کښې هم بدلون راغلی دی.

## حوالې

(1) Zerihum doda,M.A so, june 2005, (Introduction to social anthropology), page 80
(2) کاکړ، ډاکټر برکت شاه, تکتو، جولائي-دسمبر ۲۰۱۲،مخ ۱۷
(3) نيژدي، مصطفي،(1365) ش ، پښتني فولکلور ،دافغانستان دعلوموا کاډيمي ،دولتي مطبعه، مخ ۱
(4) لودين ،ډاکټر دولت محمد ،( ۱۳۶۷)، په کلتوري انقلاب کې عام اوخاص خصوصيتونه، دولتي مطبعه،مونوټايپ, مخ ۳۰-۲۹
(5) کاکړ, ډاکټر برکت شاه ،تکتو،جولائي- دسمبر ۲۰۱۲ ،مخ ۱۷
(6) منګل،عبدالاحد ،تکتو،جنوري-جون ۲۰۱۸،دفولکور ټولونې ميتودلوژي،مخ ۱۰۴
(7) وزير ، ډاکټر نصرالله،(۲۰۱۴) د ثقافت بېلابېل رنګونه ،پښتواکېډمي کوټه،يونائيټډ پريس کوټه. مخ ۱۹
(8) همدغه، مخ ۲۰
(9) عارف،سيدخيرمحمد (۲۰۰۵)، اتڼ نارې، ، پښتواکيډمی کوټه ،خپروونکي، قلات پريس کوټه،مخ ۱۶
(10) دواد ،خان داور ،(سن ندارد)،پښتوټپه، مخ ۱۶
(11) خان، شاکره،تکتو،جنوري-جون ۲۰۱۸،کاکړی غاړې دخپلي اولس روحاني تسکين،مخ ۲۳
(12) شاهين ،سلمیٰ (۱۹۹۴)روهي سندرې(ټپې)دويم جلد ،پښتواکيډيمي پېښور ،مخ۱۰۳
(13) منګل ،علي محمد، (۲۰۱۲)،پسول په کاکړی غاړو کي څېړنيو،لاهور ،مخ۵۷
(14) منګل،علي محمد،(۱۳۶۰)،فولکلوري ګلونه،افغانستان دعلمواکاډيمي، کابل،مخ۳۱
(15) لائق،سليمان (۱۳۶۳)،پښتولنډی،دافغانستان دعلمواکاډيمي دژبواوادبياتومرکز،پښتوټولنه،مخ۱۰
(16) همدغه،مخ ۴۰۴